

وزارت معادن و پترولیم
معینیت سروی جیولوجی
ریاست عمومی مدیریت معلومات جیولوجیکی
آمریت خلاصه سازی گزارشات جیولوجیکی

# گرانیت شهر نیلی ولایت دایکندی



## موقعیت:

ولایت دایکندی از ولایت های مرکزی افغانستان بوده که از کابل ۵۵۰ کیلومتر فاصله داشته و با ولایت های (بامیان، غور، غزنی و ارزگان ) مرز مشترک دارد ساحه تحت پلان در حدود ۲۳۰۰ الی ۲۴۰۰ متر و امتداد ساحات گرانیتی از جنوب غرب به طرف شمال شرق می باشد. این ساحه در شهر نیلی مرکز ولایت دایکندی قرار دارد.




## جیولوجی ساحه:

نظر به مطالعات که توسط متخصصین داخلی و خارجی در سال های ۱۹۷۷ و ۱۹۸۷ در ولایت دایکندی صورت گرفته نقشه برداری جیولوجیکی به مقیاس ۱:۲۵۰۰۰۰ و ۱:۵۰۰۰۰۰ را در زون تکتونیکی هلمند به انجام رسانیده است احجار ساحه مطالعه شده بخشی از زون تکتونیکی هلمند می باشد که این زون از جمله زون چین خورده آلپ قدیمی یا قبلی به شمار می رود. و مستقیماً به منطقه چین خوردگی جوان بلوچستان -همالیا هم سرحد است. این احجار انتروزیفی که شامل گرانیت، گرانودیوریت، و گرانیت گنایس می باشد که به شکل بتولیت در ساحه شهر نیلی و اطراف آن تشکیل شده و نظر به مطالعات قبلی عمر این احجار مربوط به دوره تباشیر می باشد. احجار انتروزیفی ساحه مطالعه شده در قریه قلعه متوسط دانه و در منطقه غوچک دانه درشت که دانه های آن به راحتی با چشم غیر مسلح دیده می شود در ترکیب اصلی این احجار منرال های پلاجیوکلاز، بیوتیت، هارنبلند، الکلی فلدشپات نوع اورتوکلاز، پیروکسین و کوارتز مشاهده می شود که منرال سیرسیت به قسم ثانوی در ترکیب سنگ تشکیل شده است. ستركچر آن گرانولار و بافت هیپ ایدومورفیک می باشد.


## مساحت و ذخیره تخمینی:

مساحت ساحه متذکره به ٦,٧٦٧,٧٤٣ متر مربع و ذخیره تخمینی آن به ٩٣٠,٥٦٤,٦٦٢.٥ تن می رسد.

## معلومات اجتماعی و محیط زیستی:


در این نواحی اساساً اقلیم قاره ای بوده و تفاوت درجه حرارت شبانه روزی و ماهانه در تغیر می باشد. اهالی منطقه به خاطر صرفه جویی زمین های زراعتی عموماً در کنار دره و قسمت‌های تحتانی به نسبت نشیبی کوه ها که امکان استفاده زراعت موجود نبوده سرپناه ها اعمار نموده است.

# د دایکندي ولایت د نیلي ښار گرانیټ



## موقعیت:

دایکندي ولایت د افغانستان له مرکزي ولایتونو څخه دی چې له کابل څخه ۵۵۰ کیلومتره واټن لري او له (بامیانو، غور، غزني او ارزگان) ولایتونو سره گډه پوله لري، پلان شوې سیمه له ۲۳۰۰ څخه تر ۲۴۰۰ مترو پورې او د گرانیټي سیمو امتداد له سویل لوېدیځ څخه شمال ختیځ لورته دی. دا سیمه د دایکندي ولایت په مرکز نیلي ښار کې موقعیت لري.




## د سیمې جیولوجي:

د هغو مطالعاتو له مخې چې د کورنیو او بهرنیو متخصصینو له خوا په ۱۹۷۷ او ۱۹۸۷ کلونو کې د دایکندي په ولایت کې ترسره شوي، د ۱:۲۵۰۰۰۰ او ۱:۵۰۰۰۰۰ په مقیاس سره جیولوجیکي نقشه برداری د هلمند په تکتونیکي زون کې ترسره شوی دی چې د مطالعې شوې سیمې ډبرې د هلمند د تکتونیکي زون یوه برخه ده چې دا زون د لرغوني یا پخواني آلپ د گونځو شویو زونونو څخه گڼل کیږي او دا په مستقیم ډول د بلوچستان - همالیا د ځوانو گونځو سیمې سره گډه پوله لري. دا انتروزیفي ډبرې چې په کې گرانیټ، گرانو ډیوریټ او گرانیټ گنایسونه دي د نیلي ښار او شاوخوا سیمو کې د بتولیت په شکل کې رامنځته شوي او د پخوانیو مطالعاتو له مخې د دې ډبرو عمر د تباشیر دورې پورې اړه لري. د مطالعه شوي سیمې انتروزیفي ډبرې د قلعه په کلي کې متوسط دانه او د غوچک په سیمه کې یې دانې غټې دي چې اسانۍ سره په غیر مسلح سترگو لیدل کیږي. د دې ډبرو په اصلي ترکیب کې د پلاجیو کلاز، بیوتیت، هارنبلند، د اورتوکلاز ډول الکلي فلدشپات، پیروکسین او کوارتز منرالونه لیدل کیږي چې د سیرسیت منرال په ثانوي ډول د ډبرې په جوړښت کې برخه لري. سترکچر یې گرانولار او جوړښت یې هیپ ایدومورفیک دی.

## د سیمې پراخوالی او اټکلي زیرمه:

د یادې شـوې سـیمې پراخوالی 6,767,743 متره مربع او اټکل شـوې زیرمه یې 930,564,662.5 ټنو ته رسیږي.

## ټولنیز او چاپیریالي معلومات:

په دې سیمو کې اقلیم اساسا قاره ای دی او د ورځني او میاشتني د حرارت درجې توپیر بدلون مومي. د سیمې خلک د کرنیزو ځمکو د ژغورلو په موخه په عمومي ډول د درو او د غرونو په ښکته برخو کې چې د کرنې په برخه کې ترې گټه نه اخیستل کیږي ځانونو ته د اوسیدلو ځایونه جوړ کړي دي.